ترتیب کونکی : الحاج داکتر امین الدین سعیدی(سعیدافغانی)


۲۹ مارچ ۲۰۲۰

## د قیامت له ورځې تشابه له کرونا سره!

داسلامی نړی مشهور عالم او دانشمند دُکتور یوسف قرضاوي فرمایی: د کرونا ویروس موږ ته دا درس راکوي، تر څو هغه ورځ یاده کړو چې موږ او تاسې هیره کړې ده.

« يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ »(هغه ورځ چې انسان له خپل ورور څخه تښتي... (دعبس سوره ۳۴ آیه )

«وَ أُمِّهِ وَ أَبِيهِ ».(او له مور او پلار څخه... دعبس سوره ۳۵ آیه )

«وَ صَاحِبَتِهِ وَ بَنِيهِ».(او له میرمني او اولادونو ) دعبس سوره ۳۶ آیه )

نن ورځ د خلکو چلند د قیامت له ورځې سره ورته دی، یعني هغه راتلونکی چې د هغوی په انتظار کې دی. اوس خلکو د ځان له ویرې یو له بل څخه واټن خپل کړی او یا هم تښتي، ښه دوستان یو بل ته لاس نه ورکوي، میندې خپل اولادونه په غیږ کې نه نیسي، پلار د زوی لاس نه نیسي، د یو بل کور ته څوک نه ورځي، حتا تر دې چې زموږ ډېر نږدې کس هم له نړۍ څخه ولاړ شي، جنازه یې موږ ته نه راکوي او په یوازیتوب کې یې خاورو ته سپاري.

مجلسونه منع شوي دي، عبادتي اعمال معطل شوي دي، د جمعې لمانځه کې هغسې د خلکو ګڼه ګونه نه وي. نورې ډلیزې دیني برنامې ممنوع دي، د جماعت لمونځ چې دغو ټولو ته ثواب ویل کیږي، اکثر ځایونو کې بند شوی دی.ټولنیزې اړیکې، لیدنې کتنې معطل شوې او دریدلې دي.

لنډه دا چې هر څوک په خپل غم کې دی.

نو راځئ مخکې له دې چې له اللهﷻ او نورو سره د حساب تسویه وکړو، له ځان سره حساب وکړو. د [ قارعة ] په سورة کې اللهﷻ فرمایي:

«يَوْمَ يَكُونُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ»هغه ورځ چې خلک (په حیرانتیا) لکه پتنګان تیت و پرک وي(۴)

نن ورځ د قیامت د ورځې له نخښو څخه ده:

ربه! ټول انسانان چې په هر دین دي، ناروغانو ته یې شفا ورکړه. د رحمت له خزانو څخه دې په ټولو د لطف او مینې سیورې وغوړوه او ټول مستقیمې لارې ته هدایت کړه او زموږ د ټولو عاقبت په خیر کړه! آمین یا رب العالمین